مطبوعاتي اعلامیه

**د امریکا په راتلونکو منځمهاله ټاکنو کې د امریکا ولسمشر ته د کمپاین لپاره د پاکستان پوځي مشرتابه زموږ پر هوایي حریم او امنیت جوړجاړی کوي**



د پاکستان پوځي رهبري خپل بادار، متحده ایالاتو ته د خپل ګټورتوب ثابتولو لپاره له ټولو پولو تېر شو. د پاکستان د پوځ مطبوعاتي دفتر په یوه اعلامیه (PR-64/2022-ISPR) کې منلې چې د ۲۰۲۲م کال د جولای په ۲۹مه د جنرال باجوه او د امریکا د مرکزي قوماندې، قوماندان مایکل کوریلا تر منځ اوږدې ټلیفوني خبرې اترې شوي. دا د پاکستان پوځي رهبري ده چې د امریکا بې پیلوټه الوتکو ته اجازه ورکوي چې د قطر په العدید هوایي اډه کې د امریکا د مرکزي قوماندې له مرکزه د پاکستان د تدارکاتي هوایي کرښې له لارې – چې د امریکا د ډرون تنظیموونکي یې «بلوار» بولي - په اسانۍ کابل ته ورسېږي. د پاکستان له پوځي مشرتابه سره نږدې همغږي وه چې امریکا وکولی شول د ۲۰۲۲ د جولای په ۳۱مه په کابل کې یو کور په نښه او مخلص مجاهد ایمن الظواهري – الله تعالی دې یې شهادت قبول کړي- شهید کړي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** دا دی د پاکستان پوځي مشرتابه؛ چې یو اوږد سیاسي ناورین یې رامنځته کړی؛ په سیاسي او قضایي برخو کې لاسوهنه کوي او بیا زموږ له وسلهوالو ځواکونو هم غواړي چې له سیاسته لرې وي. پاکستان چې داخلي ګډوډیو فلج کړی، د پیسو نړیوال صندوق په لاسونو له اقتصادي تباهۍ سره مخ دی. هند زموږ کورني امنیت ته زیاتېدونکي ګواښونه کوي او له بل لوري مودي پر اشغال شوي کشمیر خپل وحشیانه کنټرول زیاتوي او پر وړاندې یې هېڅ مزاحمت نشته. تر «بلوار» هوایي دهلېز لاندې د امریکایي بې پیلوټه الوتکو له لوري د حساسو پوځي شتمنیو جاسوسۍ ته په پوره بې پامۍ، د پاکستان پوځي مشرتابه د امریکا له ولسمشر، جوبایډن سره په یوه مهم برید کې مرسته وکړه چې له سختو منځمهاله ټاکنو سره د مخ کېدو پر وخت مثبت

کمپاین ورته وشي. په دې توګه د پاکستان پوځي رهبري زموږ او زموږ د وسله‌وال ځواک پر وړاندې د اشغالګرو لوری ونیو.

اې مسلمانانو! دا زموږ د ټولو مسولیت دی چې پر پاکستان د امریکا راج ختم کړو. یوازې د نبوت پر منهج خلافت کولی شي چې د مسلمانانو له تر ټولو لوی دښمن، امریکا سره هر راز ملګرتیا، اړیکې، ګډ کار او همغږي ختمه کړي. دا کار یوازې خلافت کولی شي؛ ځکه خلافت د الله سبحانه و تعالی په رسۍ ځان کلک تړي او د هغه څه پر بنسټ حکومت کوي چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي؛ الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا﴾ [النساء: ۱۳۹]**

*ژباړه: هغه کسان چې له مومنانو پرته کافران په دوستۍ نیسي، ایا له هغوی (کافرانو) سره عزت لټوي؟ په داسې حال کې چې عزت ټول له الله (سبحانه و تعالی) سره دی.» [نساء:۱۳۹]*

نو پرېږدئ هغه کسان چې له الله سبحانه و تعالی او د هغه له پیغمبر صلي الله علیه وسلم سره مینه لري؛ په پاکستان کې د راشده خلافت د بیا تاسیس غږ پورته کړي!

**اې د پاکستان د وسله‌وال پوځ افسرانو!** د جنرال مشرف له وخت راهیسې تر نن پورې مو د خپل مشرتابه لیدلی خیانت د دې لپاره بس نه دی چې اوس د بدلون لپاره حرکت وکړئ؟ ایا د جنرال کیاني د وخت خیانت ستاسو د حرکت لپاره بس نه دی چې د پوځ مشرتابه زموږ اسمان پر ابېټ اباد د امریکا د برید لپاره پرانیست؟ ایا د پوځ د اوسني مشرتابه لیدلی خیانت مو د دې لپاره بس نه دی چې اوس ژر حرکت وکړئ؟ یوازې له الله سبحانه و تعالی څخه ووېرېږئ او حرکت وکړئ، د جنت په بدل کې پر خپل نفس معامله وکړئ. همدا اوس حرکت وکړئ او د نبوت پر منهج خلافت د بیا تاسیس لپاره نصرت ورکړئ. همدا اوس حرکت وکړئ او ځان ډاډه کړئ چې ستاسو پر ښو خلکو د قران او نبوي سنتو پر بنسټ حکومت وشي. همدا اوس حرکت وکړئ چې خلک مو داسې حاکمان پیدا کړي چې مینه ورسره ولري، شپه او ورځ یې په ساتنه او پاملرنه تېره کړي. همدا اوس حرکت وکړئ چې بلاخره داسې پوځ ولرئ چې د جګړې په ډګر کې، په شهادت او فتح دواړو کې له تاسو مخکې وي. حزب التحریر پر تاسو غږ کوي چې همدا اوس له دوی سره راپورته شئ؛ د الله سبحانه و تعالی د رضایت لپاره مخ پر وړاندې لاړ شئ!

**د حزب التحریر ولایة ـ پاکستان مطبوعاتي دفتر**